د نبوي اخلاقو د ترويج اونۍ

# د رسول الله صلی الله علیه وسلم

## اخلاقي ځانګړتیاوې



جمعیت اصلاح افغانستان

د عوت او ارشاد څانګه

# د رسول الله ﷺ

## اخلاقي ځانګړتياوې

د جمعيت اصلاح د دعوت او ارشاد څانګه

## د کتاب معرفي:

د کتاب نوم: د رسول الله صلی الله علیه وسلم اخلاقي ځانګړتیاوې
لیکنه: دکتور مصطفی سباعی
ژباړه: ډاکتر غنچه ګل آرمان
د چاپ وار: لومړی
تیراژ: «۱۰۰۰۰» لس زره ټوکه
د چاپ نېټه: قوس ۱۳۹۶ هـــ ش
ناشر: د جمعیت اصلاح د دعوت او ارشاد څانګه

د چاپ حق محفوظ دی

بسم الله الرحمن الرحيم

# سريزه

الحمد لله وحده، أنجز وعده، و نصر عبده، و هزم الأحزاب وحده، و الصلاة والسلام على من بعث رحمة للعالمين، الموصوف بالخلق العظيم، الذی جعله الله أسوة للناس أجمعين.

**وبعد:**

**الله جل جلاله وخت په وخت د انسانانو په منځ کې داسې کسان په خپلې وحې نازولي چې د هغوی په منځ کې په هر اړخيز ډول سپېڅلي، پاک او په اخلاقي لحاظ تر ټولو لوړ وو، تر څو چې انسانان د هغوی پيروي وکړي او د هغوی ژوند د خپل ژوند لپاره نمونه وګرځوي، دغه سپېڅلي انسانان يوازې او يوازې پيغمبران عليهم السلام کېدای شي او بس.**

**د پيغمبرانو عليهم السلام په لړۍ کې تر ټولو وروستی پيغمبر محمد –صلی الله عليه وسلم– په پاکوالي، سپېڅلتيا او اخلاقي لوړوالي کې د انسانيت لپارهستره نمونه د الله تعالی لخوا راولېږل شو، او د هغه لخوا پدې ځانګړتياوو ونازول شو چې** «وَمَا أَرْسَلْنَاکَ إِلاَّ رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ»، «وَإِنَّکَ لَعَلی خُلُقٍ عَظِيمٍ»، «لَقَدْ کَانَ لَکُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ»، **هغه صلی الله عليه وسلم د ټولو مخلوقاتو لپاره رحمت ؤ، ځکه چې د لوړو اخلاقو خاوند ؤ او هر څوک او هر شی د هغه د لوړو اخلاقو څخه مستفيد وو، ځکه خو بايد همدغه شان انسان د انسانانو د ژوند لپاره نمونه او بېلګه وګرځي.**

**که له نن څخه څوارلس پېړۍ پخوا انسانان د دغه شان يو ستر او کامل انسان رهبرۍ ته اړ وو، نن هم حيران انسانيت د داسې لوی انسان رهبرۍ ته اړتيا لري. خو اوس د انبياوو عليهم السلام د بعثت لړۍ پای ته رسېدلې او د رسول الله –صلی الله عليه وسلم– په بعثت سره الهي دين تکميل شوی دی، خو د رسول الله صلی الله عليه وسلم دعوت او**

لاربښوونې تر اوسه هم تازه او د قیامت تر ورځې باقي دي او باور لرو چې دغه نبوي لاربښوونې کولای شي نني انسان هم له هر ډول ستونزو او بدبختیو څخه وژغوري.
لدې امله جمعیت اصلاح افغانستان سږکال د رسول الله –صلی الله علیه وسلم– د پیدایښت په میاشت (ربیع الأول) په ټولنه کې د هغه صلی الله علیه وسلم د اخلاقو د عامولو، عملي کولو او له هغو څخه د ملت د خبرولو لپاره یو ستر کمپائن په لاره اچولی دی چې د ۱۳۹٦ لمریز کال د لیندۍ له ۱۸ مې څخه د لیندۍ تر ۲۴مې نیټې پورې دوام لري، په دغه اړه بېلا بېل دعوتي وسائل په لاره اچول شوي دي چې یوه بېلګه یې اوس مهال ستاسو په لاس کې ده.
راځئ!
چې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د اخلاقو د ترویج په اونۍ کې عملي برخه واخلو تر څو د هغه صلی الله علیه وسلم اخلاق عملي کړو او په ټولنه کې یې د ترویج او خپرولو هڅه وکړو.

په درنښت
دکتور رحمت الله زاهد
د جمعیت اصلاح افغانستان د دعوت او ارشاد د څانګې مسؤول
د ۱۳۹٦ لمریز کال د لیندۍ لومړۍ نېټه
کابل – افغانستان

## محمد -صلى الله علیه و سلم- د الله تعالی بنده او استازی

حضرت محمد –صلی الله علیه و سلم– د الله تعالی رسول دی، او هېڅوک په فکر کې له هغه سره سیال نه دی او نه هم په روحي پاکوالي او له ملکوت اعلی سره په اړیکه او وحې ترلاسه کولو کې څوک د هغه په څېر کېدای شي. داسې شخصیت چې هېڅوک هغه ته نشي رسېدای او نه څوک د هغه په شان کېدای شي، ځکه الله تعالی نبوتونه په رسول الله –صلی الله علیه و سلم– سره ختم کړي دي او د هغه شریعت یې وروستی شریعت ګرځولی دی.

رسول الله –صلی الله علیه و سلم– هغه څوک دی چې هر څوک د دې هیله لري چې د هغه د اخلاقو سره اړیکه ولري او د هغه د لارښوونو پیروي وکړي، تر څو لږ هم د هغه له صبر، جهاد، زهد، عبادت، سرښندنې او ایثار څخه برخمن شي او د هغه خوراک او جامې اغوستل د ځان لپاره سرمشق وګرځوي، الله تعالی خپل پیغمبر ته په دې لوی صفت لوړ مقام وربښلی چې فرمایي: «وَإِنَّکَ لَعَلی خُلُقٍ عَظِیمٍ» [القلم:۴] «په رښتیا چې ته د ډېرو لویو اخلاقو څښتن یې»، راځئ چې د زمانې دیوال و نړوو، تر څو ځانونه د محمد –صلی الله علیه و سلم– زمانې ته ورسوو او د روښانه او ځلانده ژوند روح له سرښندنې او زړورتیا نه په یوه ډکه ټولنه کې ووینو.

## د پیغمبر -صلى الله علیه و سلم- ځانګړتیاوې:

د ځلانده څېرې او نوراني مخ څښتن ؤ. د داسې نور څښتن ؤ چې پر نورو ټولو یې برتري ورکوله. د اړتیا په اندازه قدمونه یې اخیستل او پر لاره یې له توازن ډک مزل کاوه، داسې چې سترګې به یې ښکته وې او د پورته په پرتله به یې زمکې ته ډېر پام کاوه.

له چا سره به چې مخامخ شو، په سلام اچولو کې به ترې ړومبی کېده. بې اړتیا خبرې به یې نه کولې. خبرې یې د الله تعالی په نامه پیلولې او د الله تعالی په نامه یې پای ته رسولې. خبرې یې شمېرلې شمېرلې او غوڅې وې چې نه له اړتیا څخه زیاتې او نه له اړتیا څخه کمې وې. له فصاحت او بلاغت ډکې خبرې یې کولې. له بې ځایه او بې مورده خبرو

ځخه يې ځان ژغوره او له بې ګټې خبرو ځخه يې ډډه کوله. هېڅ خوراک ته يې بد نه ويل. هېڅکله هم د دُنيوي چارو او يا د ځان له امله نه په غوسه کېده. د ځان غچ يې له چا ځخه نه اخيست. د خوښۍ پر وخت به يې ښکته کتل او پر شونډو به يې موسکا وه.
تر ټولو ښکلي څېره يې درلوده چې په ليدو به يې سترګې خوښېدې. تر ټولو زيات سخي او د ورکړې څښتن ؤ، او ځوانمردي يې تر ټولو زياته وه. په ورکړه کې له بېوزلۍ ځخه نه وېرېده. څه به چې ترې غوښتل کېدل، د هو ځواب به يې ورته وايه او چې په دوو کارونو کې به خوښه ورکړل شوه، چې د خدای نافرماني به پکې نه وه، آسانه به يې ترې غوره کاوه.
حضرت عايشه –رضي الله عنها– وايي چې اخلاق يې قرآن ؤ.
حضرت علي –رضي الله عنه– يې په اړه ويلي: چې که ناڅاپه به چا وليد، هغه کس به په وېره اخته کېده او چې ور سره بلد به شو، خوښېده به يې.

## د رسول الله -صلى الله عليه و سلم- شخصي ژوند:

د پوښاک او خوراک په ټاکنه کې يې سختي نه کوله. هر ډول کالي به يې چې په مخکې وو، اغوستل به يې. زياتره وخت به يې له دوديزو کاليو ګټه اخيسته، مګر د هيئتونو د ښه راغلاست يا د اخترونو پر وخت به يې غوره کالي اغوستل. هر خوراک به چې تيار ؤ، خوړ به يې. که غوښه يا خواږه څه شی به وو هم به يې خوړل، که يوازې ډوډۍ او غوړي يا سرکه به وه بيا يې هم نه ويل چې نه يې خورم او هغه به يې خوړل. که څه به پيدا نه شول، په لوږه او نهاره به ويده کېده، تر دې چې د لوږې له زوره به يې په نس پورې تيږې تړلې. د ويده کېدو لپاره يې له څرمنيز توشک ځخه چې د خُرماوو له پاڼو ډک ؤ کار اخيست. پر پوزي کښېناسته او د ويده کېدو لپاره يې هم پرې بسوالی کاوه.

## په کور کې د رسول الله -صلى الله عليه و سلم- ژوند:

له خپلو مېرمنو سره يې خوږ ژوند تېراوه او په خوږه ژبه يې ورسره خبرې کولې، له هغوی سره يې ډېرې خبرې کولې او له اخلاقو او کړو وړو ځخه يې خوښ ؤ. د هغوی حساسيتونه او ځانګړي طبيعتونه يې په پام کې نيول او ويل به يې چې:

«خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهِ». (له تاسي ښخه غوره هغه دى چې له خپلې كورنۍ سره ښه چلن كوي)

حضرت عايشه –رضي الله عنها– وايي: چې هېڅكله هم د رسول الله –صلى الله عليه و سلم– كورنۍ دوه پرله پسې ورځې د غنمو په ډوډۍ نه ده مړه شوې. كله به داسې وخت هم راته چې دوه مياشتې به يې په كور كې اور نه بلېده او خوراک به يې يوازې اوبه او خُرما وې.

انس –رضي الله عنه– وايي: چې رسول الله –صلى الله عليه و سلم– به خپله زغره د ضمانت په ډول اېښوده تر څو د خپلې كورنۍ لپاره څه اوربشې پيدا كړي.

## په كور كې د رسول الله -صلى الله عليه و سلم- كار كول:

له حضرت عايشې –رضي الله عنها–ځخه وپوښتل شول چې رسول الله –صلى الله عليه و سلم– په كور كې كوم كارونه كول؟ هغې وويل: رسول الله –صلى الله عليه و سلم– د نورو انسانانو په څېر انسان ؤ. خپلې پنې به يې جوړولې، خپل كالي به يې ګنډل. خپله مېږه به يې لوشله او نور هغه كارونه به يې كول چې نور نارينه يې په كور كې كوي. د لمانځه وخت به چې راورسېد له كوره به ووت.

## له ملګرو سره د رسول الله -صلى الله عليه و سلم- چلن:

د رسول الله –صلى الله عليه و سلم– خادم انس –رضي الله عنه– وايي: چې لس كاله مې د هغه خدمت وكړ مګر په دې لسو كلونو كې يې هېڅكله هم را ته و نه ويل: چې آه! دا ستا له لاسه. هېڅكه يې هم د يوه كړي كار په هكله را ته و نه ويل چې ولې دې داسې كړي؟ او هېڅكله يې د يوه كار له امله چې نه به مې ؤ كړى، را ته و نه ويل چې ولې دې نه دى كړى؟ د مزدورۍ په راكولو كې يې را باندې ظلم نه دى كړى.

حضرت عايشه –رضي الله عنها– وايي چې رسول الله –صلى الله عليه و سلم– هېڅكله هم له خپلو لاس لاندې كسانو سره توند چلن نه كاوه او هېڅكله هم خپلو ښځو او خادمانو ته نه دى په غوسه شوى.

ابوهریرة –رضي الله عنه– وایي: چې له رسول الله –صلی الله علیه و سلم– سره بازار ته لاړم تر څو پرتوګ وپیري. خرڅوونکی را وړاندې شو او غوښتل یې چې لاس یې ښکل کړي مګر هغه خپل لاس شا ته کړ، هغه یې له دغه کار څخه منع کړ او ویې ویل:
دا کار عجمیان له خپلو پاچاهانو سره کوي، زه پاچاه نه یم، زه ستاسي په څېر سړی یم.
پرتوګ یې را واخیست، ما وغوښتل زه یې یوسم مګر اجازه یې را نه کړه او ویې ویل: د هر شي د وړلو لپاره تر ټولو مناسب کس د هغه څښتن دی.
یو وار رسول الله –صلی الله علیه و سلم– له یوې ډلې سره په سفر لاړ. د خوراک وخت را ورسېد. هغوی وغوښتل د خوراک لپاره پسه تیار کړي. یوه یې وویل حلالول یې پر ما. بل وویل: پوستکی ایستل یې پر ما. درېیم وویل: پخول یې پر ما. رسول الله –صلی الله علیه و سلم– وویل: د خس او خاشاکو راټول یې پر ما. هغوی وویل: ای رسول الله –صلی الله علیه و سلم–! مونږ ستا برخه کار هم کوو. خو رسول الله –صلی الله علیه و سلم– وویل: زه پوهېږم چې تاسې زما برخه کار هم کوئ، مګر زما نه خوښېږي چې له تاسي څخه ځان جلا کړم. ځکه چې د الله نه خوښیږي چې کوم بنده یې ځان له خپلو ملګرو جلا کړي.
د رسول الله –صلی الله علیه و سلم– یو عادت دا ؤ چې د خطاکار عذر به یې مانه او هېڅا ته به یې په هغه نوم چې نه به یي خوښېده، آواز نه کاوه. له چا څخه به یې چې بد کار ولید، یا به یې بده خبره ترې واورېده پرته له دې چې نوم یې واخلي ویل به یې: د هغه خلکو حال به څه وي؟ چې دا ډول کارونه کوي.
په همدې توګه رسول الله –صلی الله علیه و سلم– نه خوښول چې څوک ورته له ځایه پاڅېږي. هر ځای به چې خالي ؤ، هلته به کېښناسته. بازار ته به تلو، خلکو ته به یې د امانتدارۍ سپارښتنه کوله او په راکړه ورکړه کې به یې له تېرایستنې او درغلۍ څخه منع کول.
یو بل عادت یې دا ؤ چې هر څوک به چې ورسره په مجلس کې ناست ؤ، هغه به یې دومره خوښ او خندان لیده چې فکر به یې کاوه دی رسول الله –صلی الله علیه و سلم–

ته تر ټولو نږدې او د هغه خوښ کس دی. په سیاسي، جنګي، او دُنیوي امورو کې به یې د نظر له څښتنانو سره مشوره کوله او د هغوی خبرو ته به یې غوږ نیوه، که څه هم چې له نظر سره به یې مخالف ؤ.

## د رسول الله -صلی الله علیه و سلم- عبادت او له خدایه وېره:

د خدای جل جلاله څارنه او نظارت یې ډېر احساساوه او د هغه وېرې یې په زړه کې ځای نیولی ؤ. د الله تعالی عبادت یې ډېر کاوه، په شپو شپو به ویښ او د رکوع او سجدې په حال به ؤ. حضرت عایشې –رضي الله عنها– په دې اړه ورته وویل: چې دومره ډېر عبادت ولې کوې په داسې حال کې چې تېر او راتلونکي ګناهونه دې ببښل شوي دي؟ په ځواب کې یې ورته وویل: آیا د خدای جل جلاله شکر کوونکی بنده و نه اوسم؟

رسول الله –صلی الله علیه و سلم– الله تعالی ډېر یاداوه. خوراک، څښاک، کېناستل، جګېدل او ټول کارونه یې د الله په نوم او «بسم الله الرحمن الرحیم» پیلول او له بشپړولو وروسته به یې په «الحمدلله رب العالمین» پای ته رسول. هېڅکله هم د خدای جل جلاله له راز او نیاز نه ستړی کېده. دا یې هم د دُعاګانو څو نمونې:

«اللَّهُمَّ إِنِّی أَعُوذُ بِکَ مِنْ قَلْبٍ لاَ يَخْشَعُ، ومِنْ دُعَاءٍ لاَ يُسْمَعُ»

«خدایه! له هغه علم څخه چې ګټه و نه رسوي، له هغه عمل څخه چې قبول نه شي، او له هغې دُعا څخه چې قبوله نه شي ستا لور ته پنا وړم».

«اللَّهُمَّ إِنِّی أَسْأَلُکَ مِنَ الْخَيْرِ كُلِّهِ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ ، وَأَعُوذُ بِکَ مِنَ الشَّرِّ كُلِّهِ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمُ»

«خدایه! هر خیر له تا څخه غواړم چې را ته معلوم وي او که نه، او له هر شر څخه ستا لور ته پناه وړم چې را ته معلوم وي او که نه».

«اللَّهُمَّ إِنِّی أَعُوذُ بِکَ مِنْ زَوَالِ نِعْمَتِکَ، وَتَحَوُّلِ عَافِيَتِکَ، وَفُجَاءَةِ نِقْمَتِکَ، وَجَمِيعِ سَخَطِکَ»

«خدایه! ستا د نعمت له زوال، ستا د عافیت له بدلون، ستا له ناڅاپي عذاب او ټولې غوسې څخه ستا لور ته پناه وړم».

«اللّٰهُمَّ جَنِّبْنِی مُنْكَرَاتِ اَلْأَخْلَاقِ، وَالْأَعْمَالِ، وَالْأَهْوَاءِ، وَالْأَدْوَاءِ»

«خدایه! له بدو اخلاقو، ناخوښو اعمالو، د نفس له بدو غوښتنو او ټولو دردونو او رنځونو څخه ستا لور ته پناه وړم».

## ورزش او بدني ښېګڼې ته د رسول الله -صلی الله علیه و سلم- پاملرنه:

رسول الله –صلی الله علیه و سلم– د پاک او ژوندي زړه څښتن ؤ. له حضرت عایشې – رضي الله عنها– سره یې مسابقه کوله، له «رکانه» سره یې غېږه نیوله، په جشنونو او مېلو کې یې د حبشیانو ننداره کوله. خپل شخصي لباس او ښکلا ته یې هم زیاته پاملرنه کوله. حمام به یې ډېر کاوه او عطر به یې کارول. چې په لاره به تېر شو، خلک به پوهېدل چې رسول الله –صلی الله علیه و سلم– پرې تېر شوی دی. که چا به لاس ورکړ، تر ډېره وخته به یې له لاس څخه خوشبویي تله.

## د رسول الله -صلی الله علیه و سلم- ټوکې:

رسول الله –صلی الله علیه و سلم– سالمې ټوکې خوښولې او ښایسته لطیفو ته به یې خندل. له خپلو ملګرو سره به یې ټوکې کولې مګر ټوکې به یې رښتینې وې.

له انصارو څخه یوه زړه ښځه رسول الله –صلی الله علیه و سلم– ته راغله او ورته یې وویل چې دُعا ورته وکړي تر څو یې الله جل جلاله ګناهونه وبښي. رسول الله –صلی الله علیه و سلم– ورته وویل: چې ته په دې نه پوهېږې چې زړې ښځې جنت ته نه ځي؟ بوډۍ په ژړا شوه. رسول الله –صلی الله علیه و سلم– وخندل او ویې ویل: په هغه ورځ به ته بوډۍ نه یې. آیا د خدای جل جلاله هغه وینا دې نه ده اورېدلې چې فرمايي:

«إِنَّا أَنشَأْنَاهُنَّ إِنشَاء. فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا. عُرُبًا أَتْرَابًا » [الواقعة ٣٥–٣٦]

«مونږ هغوی پیدا کړلې، او هغوی مو پیغلې وګرځولې چې سره همزولې وي»

یوه ورځ یو صحرامیشتی رسول الله –صلی الله علیه و سلم– ته راغی او د سفر لپاره یې د هغه اوښ ترې وغوښت. رسول الله –صلی الله علیه و سلم– وفرمایل: زه غواړم تا د اوښ

بر بچي سپور کړم، صحرايي وويل: د اوښ په بچي څه وکړم؟ هغه ورته وويل: آيا اوښ هم د اوښ له بچي پرته بل څه شی زېږوي؟

د اُم ايمن په نوم يوه ښځه د خپل مېړه د څه اړتيا لپاره رسول الله –صلی الله عليه و سلم– ته راغله. هغه پوښتنه ترې وکړه چې مېړه دې څوک دی؟ هغې وويل: فلانی. رسول الله –صلی الله عليه و سلم– وفرمايل: هماغه چې په سترګو کې يې سپينوالی دی؟ هغې وويل: ای رسول الله –صلی الله عليه و سلم–! په سترګو کې يې سپينوالی نشته. هغه وفرمايل چې شته. ښځه په منډه لاړه او د خپل مېړه سترګو ته ځېره شوه. مېړه يې ترې وپوښتل څه شی ګورې؟ ويې ويل: رسول الله –صلی الله عليه و سلم– ستا په هکله وويل: چې په سترګو کې دې سپينوالی دی. مېړه يې وويل: نه ګورې چې د سترګو سپين مې له تورو څخه زيات دي؟

جابر بن عبدالله وايي: يوه ورځ رسول الله –صلی الله عليه و سلم– ته ورغلم ومې ليدل چې حسن او حسين يې پر شا سپاره دي او هغه په دواړو لاسونو او پښو روان دی او وايي چې ستاسې اوښ څومره ښه اوښ دی!

د رسول الله –صلی الله عليه و سلم– له ملګرو څخه يو کس د نعيمان په نوم ؤ چې ډېر شوخ او خوږ ژبی ؤ. له رسول الله –صلی الله عليه و سلم– سره يې شوخي کوله. يوه شوخي يې دا وه چې هر کله به مدينې ته راته څه شی به يې له ځان سره رسول الله –صلی الله عليه و سلم– ته راوړل او ورته ويل به يې چې دا مې ستا لپاره ډالۍ راوړې. ناڅاپه به د هغه مال څښتن راغی او له نعيمان څخه به يې د هغه پيسې غوښتې. نعيمان به هغه رسول الله –صلی الله عليه و سلم– ته راووست او ورته وبه يې ويل چې د نوموړي جنس پيسې ورکړي. رسول الله –صلی الله عليه و سلم– به ويل چې دا دې زما لپاره ډالۍ نه وه راوړې؟ هغه به ورته ويل چې آرمان مې ؤ چې ته يې وخورې مګر پيسې مې نه درلودې. رسول الله –صلی الله عليه و سلم– به وخندل او امر به يې وکړ چې پيسې يې ورکړئ.

## د رسول الله -صلی الله علیه و سلم- تواضع او تیرېدنه:

له خلکو سره یې د یوه ستر پیغمبر، او زړه سوانده او متواضع لارښود په څېر چلن کاوه. سترتوب یې د سترو اخلاقو له کبله ؤ، نه د جاه، مقام او نفوذ له کبله. تل او د دعوت په ټولو پړاوونو کې متواضع پیغمبر ؤ. په هغه وخت کې، هم دا چې ظلم او تېری به پرې شوی ؤ، له بریالیتوب او سوبې وروسته هم، په یوازیوالي کې هم، د ستونزو او سختیو په وخت کې هم او د بریالیتوب په اوج کې هم چې په ټوله عربي ټاپووزمه یې بریالیتوب تر لاسه کړ او د ده د امر تابع وه، زړه سواند او متواضع انسان ؤ.

کله چې الله د مکې د فتحې بریالیتوب ور په برخه کړ او قریش ورته له درویشت کلنې دُښمنۍ وروسته په ګونډو شول، په هغه وخت کې هم په داسې حال کې مکې مکرمې ته ننوت چې خپل سر یې د تواضع د نښې په توګه د خدای د ستاینې په موخه ځوړند نیولی ؤ.

قریش یې مخې ته له وېرې ډک راغلل. یوه ته یې چې له وېرې څخه لړزیده رسول الله – صلی الله علیه و سلم– وویل: آرام شه، زه د هماغې قریشې ښځې زوی یم چې وچه غوښه به یې خوړله!

رسول الله –صلی الله علیه و سلم– له مریانو، زړو ښځو، کونډو او بې ځوکه خلکو ته په پوره پام غوږ ایښوده. د لارې پر سر هر هغه چا ته دریده چې له ده سره یې خبرې کول غوښتل. له هر چا سره به چې مخ شو لاس به یې ورکاوه، او تر هغه به یې د نوموړي سړي لاس نه خوشې کاوه تر څو به چې هغه خپل لاس شا ته نه کړ. د اصحابو او ملګرو کره به ورتله او د رنځورانو پوښتنه یې کوله. په جنازو کې یې ګډون کاوه. د خلکو ستونزې یې اورېدې او د هغوی په غم او ښادۍ کې شریک ؤ.

## د رسول الله –صلی الله علیه وسلم- زړه سوی او مهرباني:

رسول الله –صلی الله علیه و سلم– پر کوچنیانو، ښځو او ببوزلو ډېر مهربان ؤ. یو وار یې د لمانځه پر مهال د یوه کوچني ژړا واورېده چې مور یې د ده تر شا په لمانځه مشغوله وه. رسول الله –صلی الله علیه و سلم– خپل لمونځ لنډ کړ.

په یوه جنګ کې یې د ښځې پر جنازې سترګې ولګېدې. ډېر ناآرامه شو او ویې فرمایل: تاسې مې د ښځو له وژلو څخه نه وی منع کړي؟ دې ښځې خو له تاسي سره جنګ نه کاوه؟

په حیواناتو دومره مهربان ؤ چې د اوبو لوښی به یې د پیشو مخې ته نږدې کاوه. یو وار چې یې یو خوار اوښ ولیده ویې فرمایل: د دغو څارویو په هکله له خدایه ووېرېږئ او ماړه یې کړئ.

دا ټولې د هغه د رحمت، مهربانۍ او زړه سوي نښې وې چې د هغه ستر باطن ترې ډک ؤ.

## له خلکو سره د رسول الله -صلی الله علیه و سلم- همدردي:

یوه ورځ یې لور حضرت فاطمې –رضي الله عنها– ورته د کور د کار د زیاتوالي او ستونزو له کبله ګیله وکړه او د خادم غوښتنه یې ترې وکړه. رسول الله –صلی الله علیه و سلم– و نه منله او ورته یې وویل چې څنګه تا ته خادم ونیسم په داسې حال کې چې د اهل صفّه[1] کولمې له لوږې تاویږي.

## د رسول الله -صلی الله علیه و سلم- زُهد او نیکي:

یوه ورځ حضرت عمر د رسول الله –صلی الله علیه و سلم– کور ته لاړ، ګوري چې رسول الله –صلی الله علیه و سلم– پر پوزي پروت دی چې چاپونه یې د هغه پر بدن ښکاري. د هغه کور ته یې وکتل، له یوې څوړندې بوجۍ او لږو وربشو پرته یې بل څه تر سترګو نه شول. عمر –رضي الله عنه– په ژړا پیل وکړ. رسول الله –صلی الله علیه و سلم– ورته وویل: څه شی دې ژړوي؟ هغه وویل: ای رسول الله –صلی الله علیه و سلم– ولې و نه ژاړم؟ دا دې پوزی دی چې ستا پر بدن یې چاپونه ښکاري او هغه دې هم خزانه. ټول شته دې دا دي چې زه یې وینم. او بل لور ته د ایران او روم شاهان دي چې په ناز او

---

[1]): یوه ډله بېوزله وو چې د نبوي مسجد تر څنګ اوسېدل.

نعمتونو کې ژوند تېروي، هغه هم په داسې حال کې چې ته د الله جل جلاله پيغمبر او غوره شوی يې. رسول الله -صلی الله علیه و سلم- وفرمايل: ای د خطاب زويه! په دې کې دې څه شک دی؟ هغوی هغه څوک دي چې خپل هر څه يې په دې دُنيا په برخه شوي.

عبدالله بن مسعود -رضي الله عنه- هم په همداسې يوه حال کې رسول الله -صلی الله علیه و سلم- وليد. ورته يې وويل: ولې مې نه پرېږدې چې پر پوزي دې څه شی در ته خپور کړم؟ هغه وفرمايل: زما له دُنيا سره څه دي؟ زما او د دُنيا مثال د هغه مسافر دی چې د ونې خوا ته کښيني او له لږې دمې وروسته ترې لاړ شي.

زمونږ کار په دُنيا څه دی؟

مونږه سترې لارويان يو

لږ کښينو د ونې خوا ته

چې دمه شو ترې روان يو

## د رسول الله -صلی الله علیه و سلم- ورکړه او بخشش:

د رسول الله -صلی الله علیه و سلم- ورکړې او سخاوت بريدونه نه لرل. هېڅکله يې هم څه شی نه زېرمه کول. آن کله کله خو به يې له نورو پور کاوه تر څو يې اړو او بېوزلو ته ورکړي. په ورکړه او بخشش کې له بېوزلۍ او تنګلاسۍ څخه نه وېرېده. له نړۍ څخه د تلو پر وخت يې يوه روپۍ نه درلوده. په دې اړه يې فرمايلي دي: چې زمونږ پيغمبرانو ميراث چا ته نه رسېږي او هغه څه چې را څخه پاتې کېږي، هغه صدقه دي. د هغه اصحابو د ده د ورکړې په اړه څومره ښه مثال ورکړی چې ويلي يې دي: رسول الله -صلی الله علیه و سلم- له خوځنده باد څخه ډېر سخي ؤ.

## د حق په تر سره کولو کې د رسول الله -صلی الله علیه و سلم- عدالت او قاطعيت:

رسول الله -صلی الله علیه و سلم- د حق په وړاندې خپل خپلوان نه پېژندل. ټول يې په وړاندې برابر وو او ټول وګړي د خدای او شريعت په وړاندې د خپلو کړو وړو مسؤل

وو. د بني مخزوم د ټبر يوې ښځې چې مشهور نسب يې درلود، غلا وکړه. خبر رسول الله –صلی الله عليه و سلم– ته ورسېد او هغې ښځې هم اعتراف وکړ. د ښځې خپلوان ووېرېدل چې که پيغمبر صلی الله عليه وسلم هغې ته د غلا جزا ورکړي، دوی به رسوا شي. اُسامه بن زيد –رضي الله عنه– ته لاړل او ورڅخه يې وغوښتل چې رسول الله –صلی الله عليه و سلم– ته د هغې ښځې په حق کې سپارښتنه وکړي. هغوی ځکه اُسامه وروليږه چې دی او پلار يې د رسول الله –صلی الله عليه و سلم– ډېر خوښ او ورته نږدې وو. اُسامه –رضي الله عنه– په دې اړه له رسول الله –صلی الله عليه و سلم– سره وغږېد. رسول الله –صلی الله عليه و سلم– ډېر ناآرامه شو او ويې فرمايل: آيا د خدای له حدودو څخه د يوه حد د پلي کولو مخنيوی غواړې؟ بيا يې خلک را ټول کړل او په خُطبه کې يې ورته وويل: ای خلکو! له تاسي څخه مخکې اُمتونه له دې کبله هلاک شول چې که کوم وتلي او مشهور کس به غلا وکړه پرېښوده به يې، او که کوم ناتوانه او ضعيف سړي به غلا وکړه، سزا به يې ورکوله. قسم په خدای که لور مې فاطمې هم غلا کړې وای، لاس به مې ترې پرې کړی وای.

## په جنګونو کې د رسول الله -صلی الله عليه و سلم- زړورتوب:

د دغه حيرانوونکي زوړرتوب له مخ څخه به پرده هغه وخت پورته کېده چې په خپله به يې د جنګ مشري په غاړه واخيسته. د جنګ ډګر ته به يې ودانګل او مسلمانان به يې د خدای جل جلاله په لاره کې جنګ او د هغه رسالت په برياليتوب سره تر سره کولو ته هڅول چې ايمان يې پرې درلود.

هېڅکله يې هم د جنګ له ډګر څخه تېښته نه کوله. آن د اُحد په جنګ کې هم چې زياترو مسلمانانو ماتې خوړلې وه، رسول الله –صلی الله عليه و سلم– هماغه شان ثابت قدم ولاړ ؤ او د دُښمنانو په وړاندې يې مبارزه کوله. په دې اړه حضرت علي چې په خپله هم يو تکړه جنګيالی ؤ، وايي چې کله به جنګ زور واخيست مونږ به رسول الله –صلی الله عليه و سلم– ته پناه وروړله او له مونږ څخه به هېڅ يو هم له رسول الله –صلی الله عليه و سلم– څخه د دُښمن لور ته نږدې نه ؤ.

## د خپل مسؤولیت له تر سره کولو او د خپل رسالت له رسولو سره د رسول الله -صلی الله علیه و سلم- مینه:

رسول الله –صلی الله علیه و سلم– د خپل رسالت په تبلیغ او رسولو کې هېڅ روا وسیله پرې نښوده، او دُښمنانو یې هم د دغه دعوت د مخنیوي په لاره کې له هېڅ وسیلې څخه دریغ و نه کړ. د هغو ټولو چلونو، توطئو، او ګواښونو سره سره د غره په څېر ودرېد او خپل تره ته یې هغه مشهور ځواب ورکړ: قسم په خدای جل جلاله که لمر په ښي لاس او سپوږمۍ په چپ لاس کې راکړي تر څو له خپل دعوت څخه لاس واخلم، هېڅکله به یې پرې نه ږدم تر څو مې یا خدای بریالیتوب په برخه کړي او یا یې په لاره کې ووژل شم.

کله یې چې د اُحد په جنګ کې مخ زخمي او غاښونه مات شول، ورته وویل شول: چې ولې دې ورته ښېرا و نه کړې؟ رسول الله –صلی الله علیه و سلم– وفرمایل: زه د لعنت ویلو او ښېرا کولو لپاره نه یم را لېږل شوی، بلکې د خیر او رحمت بلوونکی یم. بیا یې وویل: خدایه! زما قوم ته ښښنه وکړه ځکه چې دوی نه پوهېږي.

## په پای کې:

باید په یاد ولرو چې دا څو نمونې د هغه د اخلاقو انځور ؤ چې د هغه د شخصیت حقیقت پکې ګورو. د هغه د نورو اخلاقي اړخونو لکه وفادارۍ، امانتدارۍ، حیاء، اخلاص، رښتینولۍ، پاک لمنۍ، سیاستمدارۍ، له ګاونډیانو سره نېک چلن، فصاحت... او نورو په اړه د وینا مجال نشته، چې دې ټولو ځانګړتیاوو یې په خپل وار سره د خیر، حقیقت، کرامت او نېکمرغۍ په لور د وګړو په هدایت او لارښوونه کې خپل رول لوبولی.

سبْحانَک اللَّهُمّ وبحَمْدکَ أَشْهدُ أنْ لا إله إلا أنْت أَسْتغْفِرکَ وَأَتَوبُ إلیْک

رسول الله -صلی الله علیه و سلم- هغه څوک دی چې هر څوک د دې هیله لري چې د
هغه د اخلاقو سره اړیکه ولري او د هغه د لارښوونو پیروي وکړي، تر څو لږ هم د
هغه له صبر، جهاد، زهد، عبادت، سربښندنې او ایثار څخه برخمن شي او د هغه
خوراک او جامې اغوستل د ځان لپاره سرمشق وګرځوي، الله تعالی خپل پیغمبر ته
په دې لوی صفت لوړ مقام وربښلی چې فرمایي: «وَإِنَّكَ لَعَلى خُلُقٍ عَظِيمٍ» [القلم:4]
«په ربښتیا چې ته د ډېرو لویو اخلاقو څښتن یې».

**راځئ!**

چې د زمانې دیوال و نړوو، تر څو ځانونه د محمد -صلی الله علیه و سلم- زمانې ته
ورسوو او د روښانه او خلانده ژوند روح له سربښندنې او زړورتیا نه په یوه ډکه
ټولنه کې ووینو

